ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـــادي او ټـولنيـزو مسايلــو
پـه بــرخــه کــې د رياست الوزراء
اقتصــادي معاونيــت خــبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۳۳

نیټه: شنبه، د جمادی الثاني ۲۴مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






د افغانســـتان او ايران ترمنځ د ټاکل شويو ګډو کمېټو لومړنی ناستې ترسره او د دواړو هېوادونو د سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراخوالي او په دغه برخه کې د شـــته ستونزو د له منځه وړلو په موخه د مخکينيو توافقاتو په اړه خبرې وشوې. په دغو ناستو کې د دواړو لورو د سوداګرۍ او ترانزيـــټ کچې د زياتوالي په موخه توافق وکړ، چې د اسلام کلا، نيمروز او ابونصر فراهي او د ايران طرف ته د دربيـــو سرحدي ګمرکونـــو ترمنـــځ د کاري وخت له ۸ ســـاعتونو څخه ۱۶ ســـاعتونو ته زيات شي. همدا راز د دواړو هېوادونـــو ترمنځ د صادراتو او وارداتو د زياتوالي په موخه توافق وشو څو په ورځني ډول د بار وړونکو موټرونو شـــمېر له ۵۵۰ څخه ۱۲۰۰ ته لوړ شي. په دغو ناستو کې افغان خـــاورې ته د ايراني باروړونکو موټرونو شـــل ورځنـــی بنديز هم لرې شـــو. همدارنګـــه دواړو لورو د سوداګرۍ د ودې په موخه ځينې ټاکل شوې فيسونه هم لغوه اعلان کړل. ايران ۱۰۴ ډالر او افغانستان بيا ۵۰۰۰ افغانۍ د خاک پولي فيس لغوه کړ.

له ګاونډيـــو هېوادونو سره د افغانســـتان اقتصادي او ســـوداګريزې اړيکې ډېرې مهمې دي. افغانستان چې ډېر تجارت يـــې له ګاونډيو هېوادونـــو سره دی، ددې ترڅنګ له نړۍ سره د ســـوداګرۍ لپاره هم تل پر خپلو ګاونډيو هېوادونو متکي پاتې شوی دی. خو يوازې دا نه چې افغانســـتان ګاونډيو هېوادونو ته اړتيا لري، بلکې ګاونډي څه چې د سيمې او نړۍ هېوادونه هم افغانستان اړتيا لري او دا ځکه چې افغانستان د اسيا په لويه وچه کې د خپـــل ځانګړي جغرافيايي موقعيت له پلوه د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې زيات اقتصادي فرصتونـــه لري چې لـــه دې هېوادونو څخه هر يو يې د ترلاسه کولو هڅه کوي.

نو په کار ده چې اسلامي امارت هم له دې فرصت څخه ګټـــه پورته کـــړي او خپلـه ســـوداګري پراخه کړي. په همدې موخـــه غواړي پـــه اقتصادي، ســـوداګريزو او ترانزيتي برخو کې له ګاونډيو هېوادونو سره خپل اړيکې پراخې کړي. ايران يـــو له هغو هېوادونو څخه دی چې کـــولای شي د ســـوداګريزو اړيکـــو پـــه پراختيا سره افغانســـتان له اوبو سره ونښلوي. ددې چارې په ترسره کېدو سره به د افغانستان سوداګرۍ نړيواله او پراختيا به پيدا کړي. د ګډو کمېټو په ناســـتو کې خلور داســـې موضوعات مطرح شـــوي او هوکړه پرې شـــوې ده چې کولای شي، د سوداګرۍ په پراختيا کې ګټور تمام شي.

د سوداګرۍ په پراختيا سره به د هېواد محصولات بهر ته ولېږدول شي او ورسره بـــه په ملي عوايدو کې زياتوالی راشي. دا ټـــول هغه څه دي چـــې کولای شي د هېواد اقتصاد پياوړی او افغانســـتان له اقتصادي پلوه پر ځان بســـيا کړي. د ګډو کمېټو ناستو موخه همدا ده چې د اقتصاد، سوداګرۍ، ترانزيټ، صنعت او... نورو برخو کې شـــويو هوکړو ته عملي جامه ور واغوندي، ســـوداګري پراخه او د هېواد اقتصاد ورغوي.

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د حکم پر بنسټ،

## د هېواد د لويو لارو په هرو ۷۰ کيلومترو واټن کې مسجد رغول کيږي.



د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د جدي مياشـــتې په ۱۲مـــه نېټه د کندهار ولايت په دامان ولســـوالۍ کې د مســـجد د جوړېدو چارو د پيل پرانيســـته وکړه. په دغو مراســـمو کې د ټولګټو سرپرست ملا محمد عيســـی ثاني، د کندهار ولايتي مسوولينو، علماوو او هېوادوالو ګډون کړی و.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شـــوو مراســـمو ته وويل، د هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه او ورته د ژوند ټولې اړينې اسانتياوې برابرول د اسلامي امارت مسووليت دی او په دغه برخه کې په جديت سره هڅې کوي. محترم ملا صاحـــب زياته کړه، چې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته په

هېواد کې سلګونه پروژې پیل او د رغونې چارې یې په چټکۍ سره روانې دي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدا راز وویل چې اوســمهال په ټول هېواد کې د شاوخوا ۵۰۰ لویو او متوسطو پروژو چارې روانې دي، چې له امله یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شــوي دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هېوادوالو ته زیری ورکړ چې د بدخشان ولایت په واخان کې د هغه سړک چارې هم پیل شوي دي، چې له مخې به یې افغانستان له چین سره ونښلول شي.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر بنسټ، د ټولګټو وزارت له لوري د هېواد د لویو لارو په هــرو ۷۰ کیلومترو واټن کې په ۲۸ ولایتونو کې ۷۵ مسجدونه رغول کېږي. په یادو مسجدونو کې د لویو او کوچنیو وســایطو لپاره جلا پارکینګ، د ملا امام لپاره ځانګړې هستوګنځی، د نارینه او ښځینه لمونځ کوونکو لپاره د اوداسه او لمانځه جلا ځایونه په نظر کې نیول شــوي دي او له بشــپړې رغونې وروسته به د حج او اوقافو وزارت ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده چې پر دغه مســجد ۳۵٫٤ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او په یو وخت د ۳۰۰ لمونځ کوونکو د ځایېدو ظرفیت لري.



# اسلامي امارت د انرژۍ سکټور ته په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی

د انرژۍ سکټور په هېواد کې یو تر ټولو لویو او مهمو سـکټورونو څخـه دی. اوس‌مهال افغانســتان د بریښنا، ګاز او تېلو واردونکی هېواد دی، په داسې حال کــې چــې د هېواد د انرژۍ اړوند طبیعي زېرمې همداسې ناکارول شوي پاتې دي.

د انـرژۍ اهمیـت ته پـه کتو دغه سـکټور د افغانستان اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې دی او موخه یې په دې برخه کې پر ځان بسیاینه ده، اوس‌مهال افغانســتان د اړتیا وړ بریښـنا، ګاز او تېل له ګاونډیو او سیمې هېوادونو څخه واردوي.

د انرژۍ په سکټور کې د ځان بسیاینې نشتوالی زمـوږ د هېـواد اقتصادي پرمختګ پـر وړاندې ننګونه ده، له همدې امله د افغانســتان اسلامي امارت په دې برخه کې ګوتلي ګامونه اخیســتي دي، چې د کجکي بند د دوهم فاز پرانیســته، د بخـش آبـاد او کمال خـان بند د پاتــې چارو بشــپړېدل، په مختلفو ولایتونو کې د لمریزو او بادي بریښنا پروژو پرانیستې یې ښې بېلګې دي.

د آمو نفتي حوزې څخه د تېلو اســتخراج پیل بل هغه ګام دی چې اســلامي امارت په دې سکټور کې پورته کړی دی. اسلامي امارت په هېواد کې د شته طبیعي ګازو له زېرمو څخه د استخراج په برخه کې خپلې هلــې ځلې ګړندۍ کړې دي او هڅه یې داده چې له دې پلوه هم هېواد پر ځان بسیاینې ته ورسوي.

همدارنګه د افغانســتان اسلامي امارت د انرژۍ ســکټور په برخه کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو د جلب او جــذب او د پانګونې لپاره د اســانتیاوو برابرولو په تــړاو جدي هڅې پیل کړې دي، چې ښه بېلګه یې د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ



کې د کــورني او بهرني شرکت له لوري په ترتيب سره د ۱۰ ميګاواټــه او ۲۲ميګاواټــه لمريــزې برېښنا د توليد پروژې دي.

د انرژۍ په سکتور کې په پانګونې سره به له يوې خوا هېواد په کور دننه د انرژۍ سرچينو څخه په استفادې ځان بسياينې ته ورسيږي او له بل لــوري به د وارداتي انرژۍ پــه برخه کې مصرف کېدونکې پيسې سپما شي.

# د افغانستان او ايران ترمنځ د سوداګرۍ د زياتوالي په موخه د ګډو کمېټو لومړنۍ ناستې ترسره شوې



د افغانســـتان او ايران ترمنځ د ټاکل شويو ګډو کمېټــو لومړنــۍ ناســتې تــرسره او د دواړو هېوادونــو د ســـوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراخوالي او په دغه برخه کې د شـــته ستونزو د له منځه وړلو په موخه د مختکينيو توافقاتو په اړه خبرې وشوې.

دغه ناســتې چې د دواړو هېوادونو په سرحدي ګمرکونــو کې ترسره شــوې د ســـوداګرۍ او ترانزيټ کچې د زياتــوالي په موخه دواړو لورو توافق وکړ، چې د اسلام کلا، نيمروز او ابو نصر فراهــي او د ايران طرف تــه د دربيو سرحدي ګمرکونو ترمنځ دې کاري وخت له ۸ ســاعتونو څخه ۱۶ ســاعتونو ته زيات شي. همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنـځ د صادراتو او وارداتو د زياتوالي په موخه توافق وشو څو په ورځنۍ ډول د بــار وړونکو موټرونو شــمېر لــه ۵۵۰ څخه ۱۲۰۰ ته لوړ شي. په دغو ناستو کې افغان خــاورې ته د ايــراني باروړونکو موټرونو شــل ورځنۍ بنديز هم لرې کړل شو.

همدارنګه دواړو لورو د سوداګرۍ ودې په موخه ځينې ټاکل شوې فيسونه هم لغوه اعلان کړل. ايران ۱۰٤ ډالر او افغانستان بيا ۵۰۰۰ افغانۍ د خاک پولې فيس لغوه کړ.

د يادونــې وړ ده چې د دې ناســتو موخه څه مــوده وړاندې ايــران تــه د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د رسمي سفر پرمهال له ايراني چارواکو سره د شــويو هوکړو تعقيــب دی. ايران ته د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال د رسمي ســفر پرمهــال د دواړو هېوادونــو ترمنـځ د سوداګرۍ او ترانزيټ کچې د زياتوالي په موخه يوشمېر تفاهمنامې لاسليک شوې وې او د هغو تعقيب لپاره د ګډو کمېټو پر ګومارلو هم هوکړه شوې وه.

# په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۴۸۱۹۹ ســـوالګر راټول شوي دي



د ســـوالګرو راټولولو کمېټې له لوري د روان ۱۴۰۲ لمريز کال د جدي مياشتې تر ۱٤مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سيمو ۴۸۱۹۹سوالګر راټول شوي او دا لړۍ ادامه لري.

تــر دې دمه پــورې په راټولو شــويو ســـوالګرو کې ۱۴۸۱۳ ښـځينه، ۷۵۸۰نارينه او پاتې ۲۵۷۲۶ ماشومان دي. له مستحقو سوالګرو سره د افغانستان اســلامي امارت له لوري دوامداره نغده مرسته کيږي او بې سرپرســته سوالګر ماشــومان له بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه برابريږي.

ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونيزه
د اقتصـادي او ټـولنيـزو مسايلـو
پـه بـرخـه کـې د رياست الوزراء
اقتصـادي معاونيت خـبري اوونيزه



# مکثی بر اهمیت و بازسازی شاهراه سالنگ

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

اعمار و بازسازی شاهراه ها، سرک ها و راه های مواصلاتی اهمیت بنیادی در رشد اقتصادی کشور داشته که با آن در کنار فراهم شدن سهولت ها در حصه رفت و آمد عامهٔ مردم، سکتور اقتصادی کشور نیز توسعه یافته می تواند. بر اساس این دیدگاه، امارت اسلامی ضمن براه اندازی و تطبیق پلان ها در عرصه های مختلف زیربنایی، بازسازی و اعمار شاهراه ها و سرک ها را جهت تسهیلات بیشتر برای ترانزیت اقلام تجارتی و رفت و آمد شهروندان در صدر برنامه های کاری خود قرارداده است. ارائه خدمات اثرگذار و معیاری ترانسپورتی، تقویت ارتباطات ترانسپورتی با کشور های همسایه و منطقه و انکشاف زیربناهای ترانسپورت در اولویت های امارت اسلامی قرار داشته، که در این ارتباط عملاً کار بازسازی شاهراه های بزرگ مانند شاهراه سالنگ، کابل- هرات، علاوه از مرکز، بازسازی و ترمیم سرک های شهرهای بزرگ، گسترش سرک ها از مرکز ولایات به ولسوالی ها و نقاط دور دست ادامه دارد. در نوشته حاضر پیرامون پس منظر شاهراه سالنگ، اهمیت اقتصادی، امور بازسازی و افتتاح بهره برداری تونل و گالری(١٦) این شاهراه اشاره گردیده است.

## پس منظر تونل و شاهراه سالنگ

تونل شاهراه سالنگ که شمال و جنوب افغانستان را با هم وصل می کند یکی از نمونه های عالی مهندسی در قاره آسیا است. هدف از احداث این تونل کوتاه و آسان ساختن سفر از کابل به صفحات شمال بود زیرا قبل از ساختمان آن مسیر مسافرت خیلی ها طولانی و مشکل بود. راه عبور از کوتل شیبر در بامیان و سپس غوربند و در سرخ آب این راه نه تنها مشکل زا بود بلکه به دلیل برف باری در طول سه ماه زمستان مسدود نیز میشد و مشکلات زیاد را به بار می آورد، حتی در بهترین شرایط نیز پیمودن این مسیر کار ساده و آسانی نبود. در سال ١٣٠٨ خورشیدی پیشرفت های قابل توجه در جهت بهبود شاهراه بزرگ شمال آغاز و در سال ١٣١٢ خاتمه یافت . با وجود تلاش های فراوان این راه همچنان طولانی بود و رویای مسیر کوتاه تر به سوی صفحات شمال بخصوص بلخ همچنان در حد یک رویا باقی ماند. در واقع تا سال های دهه ٤٠ هجری خورشیدی هیچ کاری در مورد تونل صورت نگرفت . بلاخره در سال ١٣٣٨خورشیدی کار اعمار آن آغاز و پس از شش سال در تابستان ١٣٤٣ خورشیدی به مصرف بالغ به ٦٣٨میلیون دالر در زمان صدارت سردار داود خان اکمال شد. تونل سالنگ در ارتفاع ٣٩٥٠ متری از سطح آب و در موقعیت مرکزی کوه‌های پر برف هندوکش قرار دارد. طول این تونل ٢,٧ کیلو متر می‌باشد. ارتفاع این فتونل ٥ متر و دارای عرض ٦ متر می‌باشد. تونل مذکور فاصلهٔ میان شمال و جنوب افغانستان را ١١٠ کیلومتر کوتاه‌تر کرده است. این تونل شمال افغانستان را به جنوب افغانستان متصل می‌نماید. قبل از احداث این تونل وسیلهٔ تجارت و انتقالات از میان کوهای پر برف هندوکش صورت می‌گرفت. در زمان‌های قدیم مردم از شمال به جنوب افغانستان از طریق پنج راه سخت گذر سفر و انتقالات می‌نمودند. این راه‌ها عبارت بودند از شاهراه میان بادغیس و هرات از راه مرغاب و کوتل نخوتک، شاهراه دوم میان بامیان و بلخ، جادهٔ سوم از خنجان به شمالی، جادهٔ چهارم میان بدخشان و پنجشیر، جادهٔ پنجم بین بدخشان و نورستان بود. هم اکنون دو شاهراه آن یعنی هرات - بادغیس و سالنگ‌ها اعمار گردیده متباقی خامه است. قابل یاد آوریست که طول عمومی سرک این شاهراه از جبل السراج الی سالنگ ها ٨٨ کیلومتر می باشد.

## امارت اسلامی و بازسازی شاهراه سالنگ

تردیدی نیست که امارت اسلامی با گزینش سیاست اقتصاد محور خواستار آن است تا خدماتی ارزنده را در همه بخش ها به هدف عمران و بازسازی زیربنا های کشور و از این طریق در نهایت به بالنده گی و خود کفایی کشور و زنده گی مرفه اتباع کشور انجام دهد. به این آرزو مندی امارت اسلامی ضمن سایر کار های بنیادی به رفع مشکلات و چالش های موجود در عرصه راه های ترانزیتی و رفت و آمد مردم بپردازد و از این مجرا خدماتی را جهت رشد اقتصادی و رفاه همگانی برای شهروندان انجام دهد، به این اساس امارت اسلامی افغانستان بازسازی سرک ها و شاهراه را در اولویت برنامه های کاری خود قرارداده که به این سلسله کار بازسازی و ترمیم اساسی ۸۰ کیلو مترِ این شاهراه به تاریخ ۲۱ سرطان ۱۴۰۲ خورشیدی با حضور محترم عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، افتتاح گردید و اینک امور بازسازی تونل و گالری(۱۶) این شاهرا قبل از وقت معینه به تاریخ ۲۹ ام قوس همین سال به




پایه اکمال رسید و توسط محترم ملا عبدالغنی برادر آخند طی مراسمی شانداری به بهره برداری سپرده شد. در مراسم افتتاح بهره برداری تونل و گالری شاهراه سالنگ، معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که یک ملت مادامی از لحاظ اقتصادی به پای خود می ایستد و به سوی خود کفایی گام بر می دارد، که زیربنای سالم داشته باشد. زیربنای کشور ما در طول چهل سال گذشته آسیب زیادی دیده است. امارت اسلامی اهمیت بازسازی بنیاد های اقتصادی را درک نموده، بناً پالیسی اقتصادی بخش عمدۀ آن را تشکیل میدهد. وی افزود، امارت اسلامی در نظر دارد تا در صورت مساعد شدن امکانات تونل دوم سالنگ را نیز احداث نماید و از حیرتان الی تورخم شبکه خط آهن را ایجاد نماید، که در این صورت در ترانزیت افزایش به عمل میاید و برای شهروندان سهولت های بی شماری فراهم می شود. بناً چنین برمیاید که امارت اسلامی بازسازی و انکشاف زیربنا های کشور را در صدر برنامه های کاری خود قرارداده و به طور خستگی ناپذیر در این راستا سعی و تلاش می کند.

## اهمیت شاهراه سالنگ

شاهراه سالنگ از جهات مختلف حایز اهمیت می باشد، که از آن جمله می توان بر نقش مؤثر آن در ترانزیت اقلام تجارتی به مصرف کم و مدت زمان کوتاه اشاره نمود، که این مسئله به نحوی از انحاء بالای کاهش قیمت مواد و اقلام تجارتی مورد نیاز مردم تأثیرات ژرفی داشته و نقش بسزای در حصه مسایل اقتصادی مردم و کشور دارد، زیرا مواد و اقلام صادراتی و وارداتی به مصرف کم و مدت زمان کوتا صورت گرفته و این خود در کاهش قیمت اموال و خرید و فروش عاری از اهمیت نیست و از جانب دیگر سهولت های لازم را برای رفت و آمد مسافرین مساعد می نماید، این شاهراه که یکی از شاهراه های مهم ترانزیتی کشور است علاوه از اتصال ولایات شمال به مرکز کشور، نقش مهم و اساسی در انتقال اموال و اجناس تجارتی (صادرات و واردات) با کشور های همسایه دارد. همچنان هنگامی که کار بازسازی اساسی این پروژه آغاز گردیده، برای شماری از هموطنان عزیز ما به شکل مستقیم و غیر مستقیم فرصت های کاری ایجاد گردیده و در کنار به میان آمدن فرصت های کاری سهولت های زیادی فراهم گردیده و می شود. همچنان جهت حفظ و مراقبت از این مسیر زمینه اشتغال دایمی برای تعدادی از مردم مساعد می شود، که این خود نقش مؤثری در امرار معیشت مردم و افزایش عاید سرانه دارد. همچنان این شاهراه نُه ولایت شمالی و چهار بندر بزرگ تجارتی را به کابل وصل می‌کند که به اهمیت اقتصادی آن می افزاید. به همین شکل محترم ملا عبدالغنی برادر آخند پیرامون اهمیت بازسازی شاهراه سالنگ در مراسمی که به مناسبت افتتاح بازسازی پروژه مذکور به تاریخ ۲۱ سرطان ۱۴۰۲ خورشیدی تدویر گردیده بود گفت که این پروژه پس از کانال قوش‌تپه، دومین پروژه‌ی بزرگ ملی و اقتصادی دانست و گفت که با تکمیل آن، سهولت رفت و آمد در بخش تجارت از شمال به جنوب، به وجود خواهد آمد. همچنان معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم بهره

برداری تونل و گالری ١٦ شاهراه سالنگ در مورد اهمیت این شاهراه به تاریخ ٢٩ام قوس ١٤٠٢ خورشیدی گفت که اهمیت این راه در این است که افزون بر وصل شمال و جنوب کشور در بخش ترانزیت برای کشـور های آسیای میانه و آسیای جنوبی نقش مهمی را بازی می کند، در صادرات و واردات اقـلام تجارتی تسـهیلات زیادی را به میـان آورده و از این مسـیر حجم داد و سـتد تجارتی بیشتر می شود.

## مروری بر مشکلات این شاهراه در گذشته


مشـکلات و عوامل زیادی سبب گردیده تا کشور مـا فاقد سرک های معیاری برای ترانزیت و اقلام تجاری و رفت و آمد مسـافرین باشـد، که از آن جمله می توان از چند عامل مهم نام برد: عدم امنیت مهم ترین چالش سر راه ترانسـپورت در کشور به شـمار میرفت، که شاهراه ها از این لحاظ مصؤنیت نداشت و تجارت به دلیل نا امنی در شاهراه ها به مشکل مواجه بود و از جانب دیگر حکومت های گذشته هیچ توجهی بنیادی در این عرصه نداشـتند. همچنـان سرقت های مسـلحانه و باج گیری از دیگر گونه های نا امنی بود که موجب کندی رشد تجارت در کشور شده بـود. نبود سیسـتم ترانزیتی و کمبود وسـایط ترانسپورتی معیاری، رفت و آمد موتر های باربری به توناژ بلند، فسـاد اداری، اخـاذی های غیر قانونی و بارنده گی های پی هم در فصل زمستان از چالـش هـای عمده این شـاهراه بـود، که خوشبختانه با حاکمیت مجدد امارت اسلامی امنیت سرتاسری تأمین گردیده و زمینه برای کار و پی کار در این عرصه مسـاعد گردیده، فسـاد ریشـه کن شـده، به پدیده جنگ و خود سری و اخاذی نقطه ای پایانی گذاشـته شده و تعهد در حصه عمران و بازسـازی کشور موجود است، که در پرتو این مسـایل اهم مشکلات کوچکی دیگر هم حل خواهد شد و زمینه برای پیشرفت مسایل اقتصادی و خدماتی بیشتر فراهم خواهد شد.

## نتیجه‌گیری

مسلم است که احداث و احیایی مجدد شاهراه ها، سرک ها و راه های مواصلاتی نقش بارزی در رشد و توسـعه اقتصادی کشور داشـته که در پرتو آن افزون بر تسهیلات در قسمت رفت و آمد عامه مردم، سـکتور اقتصادی انکشـاف یافته می تواند. بادر نظرداشت این اصل مهم امارت اسلامی با گزینش سیاسـت اقتصاد محور علاوه از سایر بخش های اقتصادی ایجاد و بازسـازی سرک ها، شاهراه ها و تأسیسات زیربنایی را در اولویت برنامه های کاری خود قرارداده اسـت،که در ایـن ارتباط عملاً کار بازسازی شـاهراه های بزرگ مانند سرک شاهراه سـالنگ، کابل-هرات، علاوه از مرکز بازسـازی و ترمیم سرک های شهر های بزرگ، گسترش سرک ها از مرکز ولایات به ولسوالی ها و نقاط دور دست ادامه دارد. شـاهراه سـالنگ، از ولسوالی جبل السراج پروان تا ولسوالی خنجان بغلان، توسط دو شرکـت خصوصی بازسـازی می شـود که وقت بازسازی کامل آن دو سال تذکر داده شده است که فعلاً امور بازسازی تونل و گالری(١٦) آن تکمیل و توسـط محترم ملا عبدالغنی بـرادر آخند معاون اقتصادی ریاسـت الوزراء به تاریـخ ٢٩ ام قوس ١٤٠٢ به بهره برداری سپرده شد. که با آن از یک سو سـهولت ها در حصه رفت و آمد مردم به میان آمده اسـت و از سـوی دیگر به رشـد و توسـعه اقتصادی کشـور می انجامد. زیرا شاهراه سالنگ یکی از شاهراه های مهم ترانزیتی کشور است که علاوه از اتصال ولایات شمال به مرکز کشور، نقش مهم و اساسـی در انتقال اموال و اجناس تجارتی (صادرات و واردات) با کشورهای همسایه دارد.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکايي ډالر | ؋٧٠,٢٥ | ؋٧٠,٣٠ |
| ١٠٠٠ | پاکستاني کلدارې | ؋٢٤٢ | ؋٢٤٣ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ؋١,٤٠ | ؋١,٤٢ |
| ١ | اروپايي یورو | ؋٧٧,٣٠ | ؋٧٧,٥٠ |
| ١ | روسی روبل | ؋٠,٦٦ | ؋٠,٧٦ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ؋٨٢٩ | ؋٨٣٩ |
| ١ | انګلیسي پوند | ؋٨٩,٣٩ | ؋٨٩,٤٦ |
| ١ | سعودي ریال | ؋١٨,٥٧ | ؋١٨,٦٧ |
| ١ | اماراتي درهم | ؋١٩,١٠ | ؋١٩,٢٠ |
| ١ | چیني ین | ؋٩,٨٧ | ؋٩,٩٧ |